بسنه کوي چې په لاسونو سره داسې وکړي» بيا يې په دواړو لاسونو يو ځل ځمکه ووهله، بيا يې ښي لاس په چپ لاس راکش کړ او د لاسونو مخ او څټونه يې مسح کړل

له عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو کار پسې ولېږلم، هلته جنب شوم، اوبه مې ونه موندلې، نو په خاورو کې لکه د څاروي په څېر ورغړېدم، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم، او پدې اړه مې ورته يادونه وکړه، هغه راته وفرمايل: «بسنه کوي چې په لاسونو سره داسې وکړي» بيا يې په دواړو لاسونو يو ځل ځمکه ووهله، بيا يې ښي لاس په چپ لاس راکش کړ او د لاسونو مخ او څټونه يې مسح کړل.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم عمار بن ياسر رضي الله عنه د خپلو ځينو حاجاتو لپاره په سفر ولېږه، نو هلته په کوروالي کولو او يا په شهوت سره مني وتلو باندې جنب شو، نو اوبه يې ونه موندلې چې غسل پرې وکړي، او له جنابت څخه د تيمم کولو په حکم نه پوهېده، بلکې يوازې له بې اودسۀ څخه يې په حکم پوهېده. نو اجتهاد يې وکړ او دا فکر يې وکړ چې لکه څرنګه د بدن ځينې برخې د اودس لپاره د ځمکې په خاورو سره مسح کيږي، نو له جنابت څخه په تيمم کې بايد ټول بدن په خاورو ککړ شي؛ په اوبو يې قياس وکړ، نو په خاورو کې ولوغړېده تر دې چې ټول ځان يې په خاورو کړ بيا يې لمونځ وکړ، نو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی، پدې اړه يې ورته يادونه وکړه، تر څو پوه شي چې سم کار يې کړی که نه؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته له دواړو بې اودسيو؛ وړې او غټې لکه: تشې متيازې او يا جنابت څخه د پاکوالي طريقه وښوده: داسې چې په دواړو لاسونو سره به ځمکې ته يوه ضربه ورکړي، بيا به چپ لاس په ښي لاس راکش کړي او د دواړو لاسونو مخونه او څټونه به مسح کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3461

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee